# د پښتو د کتابونو بنجارے

# اکمل لېونے

امجد شهزاد

پښتونخوا کښې چې چرته هم کومه ادبي غونډه وي يا د قام پرستې ډلې کوم سياسي تقريب وي نو اکمل لېونے به پکښې خامخا موجود وي. خپل د پښتو کتابونو پېټے به ئې يو طرف ته خور کړے وي او د پښتو د مئينانو ګڼه به ترې چاپېره وي. د کتابونو په دغه ستال کښې کۀ د هغۀ ذاتي ګټه وي او کۀ نۀ خو د پښتو او پښتنو ګټه پکښې ضرور وي. د پښتنو په وطن کښې چې د تېرو دېرشو کلونو نه کوم کلاشنکوف کلچر پېدا کړے شوے دے په دغسې ماحول کښې کتاب کلچر پېدا کولو کوشش کۀ ډېره لويه خبره نۀ ده نو داسې وړه خبره هم نۀ ده.



خو دا د اکمل لېوني د شخصيت يو اړخ دے، د هغۀ د شخصيت ګڼ اړخونه دي، په دغه ټولو اړخونو "پښتون" رسالې د هغۀ سره يو نشست کړے دے چې خپلو لوستونکو ته د دغه باغ و بهار او شګفته شخصيت خاوند ټول رنګونه وښائي.

اکمل لېونے په کال ۱۹۴۷ء کښې د مردان ضلعې د کاټلنګ په يو وړوکي شان کلي شموزو کښې د سيال خان کره پېدا شوے دے، د نيکۀ نوم ئې الف خان دے، باقاعده تعليم ئې بېخي نۀ دے کړے، البته وروستو ئې د خپلو يارانو دوستانو نه ليک لوست زده کړے دے. اکمل د وخت نه د باچا خان کلک ملګرے پاتې شوے دے، د ولي خان سره هم د قامي تحريک په دوران کښې ډېر ګرځېدلے دے او په جلسو جلوسونو کښې ئې د خپل خوږ اواز او قامي او نظرياتي شاعرۍ په ذريعه پښتنو ته خپل پېغام رسولے دے. د پښتون قامي تحريک سره د هغۀ تړون کله او څنګه پېدا شو په دې حواله هغۀ "پښتون" ته ووې چې زۀ ماشوم وم نو زما يوې ترور به د خدائي خدمتګار مولانا فضل حق کره خدمت کاوۀ، کله چې به مولانا صېب جېل ته تلو يا به پسې وارنټ ؤ نو د هغه د خدائي خدمتګارۍ سرې جامې او نور متعلقه سامان به مونږ کره پروت ؤ. ما به د ترور نه تپوس کاوۀ چې دا سرې جامې د څۀ دي او مولانا صېب ولې ګرفتاروي نو هغې به راته د خدائي خدمتګارۍ قيصې کولې

او دغسې زما په زړۀ او ذهن
کښې د ډېر وړوکوالي نه د قام او
اولس سره د مينې جذبه پېدا
شوه.

اکمل صېب د يو تپوس په
ځواب کښې ووې چې کله ما
ليک لوست زده کړل نو ترور به
مې راله د مولانا صېب د کوره
"پښتون" رسالې راوړې او ما به لوستې دغسې د
قامي تحريک سره زما تړون نور هم کلک شو.



کله چې "پښتون" د هغه د شاعرۍ په حقله
وپوښتل چې کله او څنګه مو دې پله پام شو نو
اکمل صېب ووې چې کله زۀ د قامي تحريک سره
اشنا شوم نو بيا چې به زمونږ په علاقه کښې کله هم
سياسي جلسې کېدې، زۀ به ورله تلم. دغه د ايوب
خان د مارشل لاء دور ؤ، چې ما به د پارټۍ په جلسو
کښې جنډه نيولې وه او ورته به ناست وم، په دغه
جلسو کښې به دجمال ګړۍ محمد باچا، دګوجرو
ګړۍ شاکرالله باچا، د کاټلنګ اشرف بابو خپل
تقريرونه کول نوورو ورو زما هم شوق پېدا شو".

کله چې باچا خان د کابل نه راغے او په کاټلنګ
کښې ئې جلسه وه نو په دغه جلسه کښې اکمل
لېوني په وړومبي ځل خپل نظم اوروله ؤ چې
وروستو د هغۀ په کتاب "چپاوونه" کښې د هغۀ د
خصوصي يادداشت سره چاپ دے. د دې نه پس چې
باچا خان د هغوي د علاقې څومره دورې کړې دي،
اکمل لېونے ورسره ګرځېدلے دے او په هره جلسه
کښې ئې خپل نظمونه اورولي دي.

"پښتون" چې کله د هغۀ د وادۀ په حقله تپوس
وکړو نو وې وئيل "زما مور و پلار ډېر وړوکوالي
کښې مړۀ وو، ما وادۀ تربورانو
کښې کړے دے، دومره مې ياد
دي چې کله باچا خان د کابل نه
راتلو هم په هغه ورځ زما وادۀ ؤ.
بچي مې درې دي، دوه لوڼه او
يو زوے".

د اکمل لېوني څۀ خاص
روزګار نشته بس کۀ چرته چا د
پښتو کتاب واخستو نو دغه د هغۀ د امدنۍ ذريعه
ده. يو وخت ؤ چې اکمل به دخپل غرۀ نه د لرګو او
وښو ګېډې راوړل او هغه به ئې خرڅول او دغه د
هغۀ روزګار ؤ، خو مسلسل دغه روزګار کولو سره
هغۀ ته د جوړونو او هډوکو بيمارې پېدا شوه او
دواړو پښو ئې کار پرېښودو. اوس اکمل د امسا نه
بغېر نۀ شي ګرځېدلے خو په دې معذوره وجود هم د
پورن چکېسر سوات نه واخله تر جلال اباد او کابل
د پښتو مشاعرو او ادبي سيمينارونو ته ځان
رسوي. تېر کال هغه د قطر پښتو ادبي ټولنې په بلنه
قطر ته هم تللے ؤ، چې د هغه ځائے د پښتنو شاعرانو
اديبانو او مينه والو ذکر اوس هم ډېر په مينه کوي.

اکمل لېونے وائي چې ما سره خپل شاعران
اديبان ملګري ډېر
لاس امداد کوي،
اکثر را ته خپل
کتابونه مفت
راکړي چې ځانله
ئې خرڅ کړه يا د
دې ملګرو کښې
کۀ کتاب پکار وي
او کنه خو زما نه



ئې په پېسو خامخا اخلي.

اکمل صېب ووې چې ماته اکېډمي ادبيات هم دا وخت ځلور زره روپۍ مياشت وظيفه راکوي.

اکمل لېونے په خصوصي توګه د بېګم نسيم ولي خان ذکر وکړو چې تېر کال ئې دے ولي باغ ته



وغوښتو او دۀ ته ئې د ولي خان او باچا خان د کتابونو (زما ژوند او جدوجهد، رښتيا رښتيا دي، باچا خان او خدائي خدمتګاري) زرګونه کاپۍ ورکړې او ورته ئې ووئيل چې ما ته د دې کتابونو واحد مستحق صرف تۀ ښکارې.

د يو سوال په ځواب کښې اکمل صېب ووئيل چې د هغۀ د خوښې شاعر حمزه بابا دے او د هغه زيات ادبي تعلق د حمزه بابا سره پاتې شوے دے. د سياسي او نظرياتي اختلاف باوجود هغۀ د حمزه بابا سره ټول عمر ادبي تعلق ساتلے او پاللے دے. هغه د حمزه بابا سره ډېر ګرځېدلے دے، کراچۍ، جلال اباد او قادرنګر بونېر کښې ئې ورسره په مياشتو مياشتو وخت تېر کړے دے.

د اکمل صېب شاعري وخت په وخت په اباسين، جمهور اسلام، کاروان، وحدت، بانګ حرم، پښتون او نورو اخبارونو رسالو کښې چاپ شوې ده.

اکمل لېوني پښتو او پښتنو ته يوشمېر د شاعرۍ کتابونه وربخښلي دي د هغه د اولسي شاعرۍ وړومبے کتاب کال ۱۹۶۲ء کښې د "يو څو ګلونه" په نوم چاپ شوے دے. ۱۹۷۰ء کښې ئې بل کتاب "لېونۍ" چاپ دے هغه دغه کال خواوشا ئې بل کتاب "عجيبه پېغام" چاپ دے. په هغه وخت کښې چې اکمل کوم وارۀ وارۀ کتابګي چاپ کړي نومونه ئې ورته ياد نۀ دي.

اکتوبر ۱۹۸٤ء کښې د هغۀ کتاب "تورتم" چاپ شو چې ډېر خوښ کړے شو او خصوصاً د دغه کتاب يو غزل خو ډېر زيات مشهور شو.

کم عقله خلقه تاسو غم او ښادي څۀ پېژنئ
تيارۀ بې وسو له پرده ده ډېوې مۀ بلوئ

د دې تورتم نه پس د اکمل د شاعرۍ دوه نور کتابونه "چپاوونه" او "لېونتوب" هم چاپ دي او اوس ئې د مزاحيه شاعرۍ مجموعه هم ډېره زر چاپ کېدونکې ده. اکمل صېب د ولي خان په ژوند او شخصيت د مختلفو شاعرانو نظمونه راغونډ کړي دي چې اوس دغه مجموعه د باچا خان ټرسټ له اړخه د چاپ د مرحلې نه تېرېږي.



اکمل صېب د باچا خان په شخصيت ليکلي شوي نظمونه هم راټول کړي دي او د هغې د چاپ تياري هم کوي.

د يو تپوس په ځواب کښې اکمل صېب ووې چې



کله چې "پښتون" د اکمل نه تپوس وکړو چې تاسو د خپل ژوند نه څومره حده پورې مطمئن يئ نو اکمل په خندا شو وې ئې پوره مطمئن يم. ټول ژوند مې ښۀ په خوشحالۍ تېر کړے دے، هره سخته مې په خندا زغملې ده، ځان مې هم خوشحاله ساتلے دے او ياران دوستان مې هم خندولي دي".

او د اکمل دا خبره غلطه هم نۀ ده هغه چې په کوم محفل کښې ناست وي نو د محفل خوند او رنګ په دۀ جوړ وي، قسم قسم لطيفې، د مختلفو سندرغاړو په خصوصي توګه د احمد خان، فضل ربي، صحبت خان او سردارعلي ټکر په اواز کښې ټپې سندرې صرف اکمل وئيلے شي او اکمل چې په يواځې ځان مشاعره کوي او د حمزه بابا نه واخله تر سمندر خان، ايوب صابر، اجمل خټک، عبدالحليم اثر، غالب ګل سرحدي، اقبال ابدار، عبدالستار عارف خټک، خېبر اپريدے او رحمت شاه سائل پورې هم د هغوي په سټائل او اواز کښې د هغوي شعرونه وائي او دا هر څۀ په دومره فنکارۍ کول صرف د اکمل لېوني خاصه کېدے شي.

پښتون اداره د اکمل لېوني د اوږد او خوشحاله ژوند دپاره دعا کوي چې د پښتنو محفلونه دغسې تر و تازه، ژوندي او شګفته وساتي. امين

## يوه تصحيح

د پښتون په تېره ګڼه کښې د الف جان خټکې د سخر نوم سهواً علي محمد چاپ شوےدے صحيح نوم حليم محمد دے لوستونکي دې تصحيح وکړي.

دا خبره غلطه ده چې د پښتو کتابونه څوک ناخلي، کۀ اخستونکي کم دي نو دهغې خپل وجوهات شته خو اوس هم د پښتو مينه وال ډېر دي. د هغې ثبوت دا دے چې زما د کتابونو څو څو اېډېشنونه ووتل صرف د تورتم څلور اېډيشنونه چاپ دي او اوس پنځم چاپېږي. اکمل دا هم ووئيل چې زۀ د ملګرو شاعرانو کتابونه هم د هغوي په اجازت چاپوم او ښۀ مارکيټ لري.

پښتون چې کله د بحث د رخ بدلولو لپاره يو ځل بيا د اکمل نه د سياسي هلو ځلو په حواله د ولي خان په باب تپوس وکړو نو هغۀ ووئيل چې ما د ولي خان په شان راست ګو او خنده رويه شخصيت بل نۀ دے ليدلے. هر وخت به ئې خُلۀ د خندا نه ډکه وه او چې کله به ئې چا سره بحث مباحثه يا تقرير کولو نو په هره خبره کښې به ئې د پښتو متلونه، ټپې او مزاحيه حکايات راوړل او په ډېر ښۀ شان به ئې خپله خبره د اورېدونکو مزغو ته کوزوله. اکمل وائي چې يو ځل کننګم پارک کښې جلسه وه، محمود خان اچکزے او نور مشران هم موجود وو چې ما خپل نظم ووئيل نو ولي خان په خپل تقرير کښې ووې چې په مونږ کښې دغه يو روغ دے او هغه هم ځان ته لېونے وائي.